بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




Dr.Said Afghani


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# عبدالحفیظ « ملیار - ساپی »

د نشرنیټه : 15 می 2024 میلادی

# د لونګی شمله!

فقيري کي لکه ما بل ملنګ نه شته
په اور سوی لکه ما بل پتنګ نه شته

یو سپرلی شو بل ستا زلفي عنبريني
رانږدي شه هیڅ حاجت د لونګ نه شته

چي د عشق په لاره ځم وي لیونی دی
چي اغيار پرې ویشتی نه یم دا سنګ نه شته

که دیار په درد او غم کي سرګردان یم
خوار او ځار دي یم په دې کي څه ننګ نه شته

پښتانه که د لونګی شمله کږي هسکه
په نړی کي ده رښتیا هاسي دنګ نه شته

بې وطنه که « ملیار» هرچیرته لاړم
خوب راحت مي پیدا نکړ پالنګ نه شته

***

عبدالحفیظ « ملیار »


بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org